AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۱۱/۰۱

# غزل

ستړي کډي دي باريږي سرګردانه زندګي ده
څوک منزل ته نه رسيږي څه ستومانه زندګي ده
څوک له پرانګه څخه تښتي څوک له پاڼ څخه ويريږي
بې هدفه قافلې دي بې کاروانه زندګي ده
هم پردي راته په قهر هم مو خپل په کاڼو ولي
اوس به چاته اوښکي يوسو څه ناځوانه زندګي ده
نه د ژوند لوری څرګند دی نه د مرګ نېټه معلومه
بس راغلي بې اختياره له اسمانه زندګي ده
هره ورځ د غم ناري دي هره شپه د مرګي ساندي
دا ازل راته ليکلي له پخوا نه زندګي ده
په تياره کي غشي اوري يو د بل په وينو رنګ يو
موږ په خپل پرهار کي ورک يو بې درمانه زندګي ده
نن مو هيڅ تر لاسه نه کړه تل سبا ته انتظار يو
زموږ د هيلو له سرحده تر ارمانه زندګي ده
له رڼا څخه تور تم ته، زر کلونه کيږي ځغلو
لا تر شا ړغونه اورو چي روښانه زندګي ده
له تيارې اوربدل کيږي هر ګړی د رڼا زيری
شپه مو نه ځي تر سهاره بې آذانه زندګي ده
زموږ په برخه رسيدلی لکه اوښکه لنډ مزل دی
له ليمو څخه بېل سوي تر ګرېوانه زندګي ده
جهاني په دې وطن کي نقابونه اوربدلي
په شبېه رنګونه اوړي بې ايمانه زندګي ده.

د ۲۰۲۱ کال د جولای د مياشتی ديرويشتمه، ويرجينيا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ